انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۲۲/۰۳/۳۰

# چی ربات که بنیادم یو ؟

کله دواړه لیوني شو، کله دواړه شو هوښیار
کله دواړه په قرار شو، کله دواړه ناقرار

عجیبه احساس دی مینه، کله ویښ کله ویده شی
کله دواړه تري منکر شو، کله دواړه په اقرار

مینه جوړهسی توفان دی، لکه اورپه سمندرکی
کله دواړه یخ کرخ شو، کله دواړه په انکار

کله رنګ کله بی رنګ شی، جوړاسمان د محبت
کله یو بل نه قربان شو، کله یو له بل بیزار

نه پوهیږم څه تاثیر دی؟ نه خُمار یو نه نشه یو
ردې ګورو یو او بل ته، دي خوړلي مو کوکنار

حرکت نشته چی ولی، کلیوال ویره کی ډوب دي
لکه مړي هدیرو کی، نه لری یو په بل کار

نه دوستان نه دښمنان شو، چی ربات که بنیادم یو
خو که بل اشاره وکړی، کوو یو په بل ګزار

فبروری/۶/۲۰۲۲

تورنتو - کانادا


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com



برای مطالب دیگر انجنیر سلطان جان کلیوال روی عکس کلیک کنید



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com